# Pakhtunkhwa پښتونخوا




## د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند خپرونه

## ۱۹ مه ګڼه ۱۹۹۸ کال


## Jahrg./vol:1998/12 nummer/ no: 19


## PASHTOONKHWA / PASCHTUNCHWA

**ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN Paschtunchwa/Afghanistan**

**ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY (PSDP) - Pashtunkhwa/Afghanistan**

www.pashtoonkhwa.com
pashtoonkhwa@gmail.com
psdp@gmx.net

## V.S.I.P / Responsible for contents

DR. KABIR STORI
RICHARDSTR. 5
50389 Wesseling - Germany
Tel.: 0049 2236 83463

## Editorial Board /Redaktion د خپرونې جرګه:

| | |
|---|---|
| Ali Khan Mahsood | علي خان محسود (مسېد) |
| Hedayat Bangash | هدايت الله خان بنګش |
| Mabariz Zapi | خان محمد مبارز ځاپی |
| Aziz Sarshar | عزيز سرشار |
| Nasir Stori | نصير ستوری اېسپزی |
| Gul Ghutai Kunarai | ګل غوټۍ کونړۍ |



| مخ | ليکوال | سرليکونه |
|---|---|---|
| ۲ | | دپښتنو ټولنيزاولسوليز ګوند دپښتنو ديوالي ورځ دجرمنی دکولن په ښارکی ونمانځله |
| ۵ | | دپښتنو ديوالي دورځی په مناسبت دپښتونخوا دقومی پارټی مشرښاغلی محمدافضل خان ﴿خان لالا﴾ وينا |
| ۱۵ | اجمل ﴿خټک﴾ | شعر |
| ۱٦ | محمداجان﴿يار﴾ | غزل |
| ۱٦ | ملنګجان﴿مهمند﴾ | باچاخان |
| ۱۷ | خبريال: عبدالنصير ستوری | کتابونه |
| ۱۹ | عبدالقهار | شعر |
| ۲۰ | خبريال:عزيز سرشار | نوی زړی |
| ۲۲ | استاد رنګ ګل﴿اريوبزی﴾ | دپښتني کلتورملغلري |
| ۲٦ | ډاکترماخان﴿شينواری﴾ | پښتونولي |
| ۲۷ | مبارز ﴿ځاپی﴾ | درناوی |
| ۲۸ | ډاکترکبير﴿ ستوری﴾ | پښتونخوا |

خپرونکی : د پښتنو ټولنيز اولسوليز ګوند
پښتونخوا / افغانستان

Herausgeber : SOZIALDEMOKRATISCHE PARTEI DER PASCHTUNEN PASCHTUNCHWA / AGHANISTANITAN
PUBLISHER : PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY PASHTOONKHWA / AFGHANISTAN

زمه وار
V. S. I. P.
RESPONSIBLE FOR CONTENTS

DR. KABIR STORI
RICHARDSTR.5
50389 WESSELING
GERMANY
TEL. : 02236 / 83463
FAX : 02236 / 841930

Redaktion
Editorial Board

د خپرونی جرګه :

| | |
|---|---|
| Ali Khan Mahsood | عليخان ﴿محسود﴾ |
| Hidayat Bangasch | هدايت ﴿بنګش﴾ |
| Mabariz Safi | مبارز ﴿صافی﴾ |
| Aziz Sarshar | عزيز ﴿سرشار﴾ |
| Abdul Nasir Stori | نصير ﴿ستوری﴾ |
| Gulghutei Kunarei | ګل غوټی﴿کونړی﴾ |

## د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند «PSDP» د پښتنو د یووالي ورځ د ۱۹۹۷ کال د جولای د میاشتې په پنځمه نیټه د جرمنی د کولن په ښار کې ونمانځله.

د پښتنو ټولنیزاولسولیز ګوند د ۱۹۹۳ عیسوی کال راهیسی د پښتنو د یو والي ورځ هر کال په مختلفو بڼو کې نمانځي پدی ترځ کې د ۱۹۹۷ کال د جولای د میاشتې په پنځمه نیټه د یوی لوی غونډې په شکل کې ونمانځل شوه. په غونډه کې ګڼ شمیر پښتنو پوهانو، لیکوالانو ادیبانو، شاعرانو، ژورنالستانو، مهمو سړیتوبونـــــو




اوهـــــمدارازیو شمیر بهرنیانو برخه اخستي وه · غونډه د ښاغلي قاري ارین له خوا د قران شریف د مبارکو ایاتونو په لوستلو سره پرانستل شوه. د ګوند مشر ډاکتر کبیر ستوری درنو میلمنو او حاضرینو ته هر کلی ووایو او لنډه وینائی وکړه وروسته د ملی سرود په درناوي حاضرین پاڅیدل. بیا د PSDP د دارولانشاڈ دفتر مشر



ښاغلي ډاکتر شیرافضل ګردیوال لخوا مقاله ولوستل شوه چې د ګوند د یوی جرګه ګی لخوا تیاره شوی وه چې المانی ژباره ئی د PSDP د سیاسی چارو د مشر ښاغلي ډاکتر محمد صابر مومند لخوا ولوستل شوه. د ګوند د لومړی مرستیال ښاغلي علیخان محسود د لنډی وینا ورسته د پښتنو د یووالي د ورځې په مناسبت د مختلفو سیاسی او غیر سیاسی سازمانو او ټولنو له خوا د رالیږل



د ښی نه چپ خواته ډاکتر شیر افضل «ګردیوال»، ډاکترمحمد صابر «مومند» او علی خان محسود پښتنو د یووالي په ورځ کې د وینا په حال کې،

شویو پیغامونو اعلان وشو، ورپسی د پښتون قامی وحدت لارښود او د پښتونخوا د قومی ګوند مشر خان لالا محمد افضل خان چې د پښتونخوا څخه د PSDP په بلنه د یووالي ورځ لپاره جرمنی ته راغلی وو وینا وکړه. د ویناګانو څخه وروسته مشاعره وشوه بیا د محمداجان یار لخوا جوړ شوی کوررس حاضرینو ته واورول شو د پروګرام د ټنګ ټکور په برخه کې د ښاغلي عارف منګل او ملګرو لخوا ملی ترانې وړاندی شوی · غونډه د ملی اتڼ په وړاندی کولو او د حاضرینو په ولولو سره پای ته ورسیده ·



د پښتنو د یووالي د ورځې د نمانځنې یوه ځنډوه «ګډونکو ملي سرود ته د درناوي په حال کې»



## د پښتنو د یووالي د ورځې په مناسبت د پښتون قامی وحدت لارښود، د پښتنو ملی مشر او د پښتونخوا قومی پارټۍ مشر ښاغلی محمد افضل خان (خان لالا) وینـــــا

اعوذ ب الله من الشیطان الرجیم

بسم الله الرحمن الرحیم

عزتمندو محترمو خویندو، مشرانو، همزولو، زلمو او ګلالیو پښتنو بچو زه د خپل خان او پښتونخوا قومی پارټۍ د طرف نه د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند د مشر ښاغلي ډاکتر کبیر ستوری، د مشرانو د جرګې




او ددی ګوند د ټولو غړو ډیره مننه او شکریه اداء کوم چې ما او زمونږ ګوند پښتونخوا قومي پارټۍ له ئې پدی غونډه کې چې ډیره

مهمه او د شلمی سدی په اخر کی ده او د پښتنو د یووالی ورځ لمانځی بلـــنــه راکــړی ده، زه ددی ډیــر قــدر کــوم ځــکــه چــی زمــونــږ دګوند(پښتونخوا قومي پارټی) مرام د پښتنو خپل قومی تشخص او قامـی وحـدت ترلاسه کول دی ترڅو پوری چی پښتنو خپل قامی تشخص او وحدت نه وی حاصل کړی هغی پوری ددونیا په قومونو کی نه احترام موندلی شی او نه ئی مسائیل حل کیدای شی ۰

ورونو دا غونډه د هغی قام په خاوره کی راغوښتی شوي ده چی کوم قام پخپلـه بـانـدی ۴۵ کـالـه د قام د تـقـسـیـم درد لیـدلـی دی ددونیا غاصبانو(تیري کوونکو) لکه څنګه چی پښتون قوم ټوټی ټوټی کړی دی هغی داد آلمان جرمن قوم هم په منځ بیل کړی وو خو په آلمانی قوم کی شعوراو بیداري وه خپل قامی وحدت ئی په۴۵ کاله کی تر لاسه کړه۰

دری دبره سل (۱۰۰) کاله تیر شو څلورم کال روان دی زه د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند ته مبارکی ورکوم چی کم از کم په آلمان کی د پښتنو د یووالی ورځ لمانځی او بیا دا غونډه د نړی په داسی دور کی راغوښتی شویده چی الکترونیک میډیا، کمپوټر ساینس اوددونیا ټیکنالوجی دا دونیا یو عالمی کلي Global Village ګلوبال ویلیج ته راغونډه کړیده۰

نن هغه انسان چی د ترقی په عروج باندی دی هغه د خلائی دور په دورشل باندی پخښه ایښودی ده، سپوږمی ته په کلونو مخکی دانسان قدمونه رسیدلی دی او تیر ماښام انسان خپله سیاره په مریخ باندی کوزه کړه ۰ هغه قوتونه چی توان او څواک لری دعالمی نوی نظام خبری کوی دا نـظـام د ټـولـی دونـیـا لـپـاره دوی وضع کـوی ۰ نـن ددونـیـا د تقسیمیدو دور ندی، دلوی اتحادونو دور دی، هغه ملکونه چی توان لری او د ترقی عروج ته رسیدلی دی هغوی راغونډیږی او یوځای کیږی



ځکه چی هغوی دخپل راتلونکی نسل دپاره روښانه مستقبل او پرمختګ غواړی ۰ ټول یورپ یوځای کیږی دیو پارلیمنټ اودیوی سکی د جاری کولو فکر کوی، نن په دونیا کی دوه اویا ۷۲ لوی اتحادونه جوړ شوی دی ۰ پدی دونیا کی هغه قوتونه چی ځان ته د انسانی حقوقو په نوم باندی د انسانانو علمبردار وائی د نوی نظام سوچ کوی زه هغوی ته دا درخواست کوم چی که تاسی پدی دونیا کی امن، سوکالی، ترقی، ورورولی، مینه او محبت غواړی نو بیا تاسی به داسی نظام راولی چی په هغی کی د وړو قومونو کلتور، عنا، اختیاراو ژبه محفوظه وی ۰

نن الکترونیک میډیا براه راست(مستقیماً)د سیارو نه ملکونو کی داخلیږی، د نولسمی ۱۹ سدی د قومی ریاستونو حد بندی نشته، دګټو قومونو تجارتی کمپنی په ډیرو ملکونو کی خپل تجارت کوی او که وغواړی نو د ترقی پذیر ملکونو ناطقه بندولی شی، دهغوی اقتصاد په ځای کښینوی ۰ پدی حالت کی ددي قومونو دا فرض دی چی هغوی د امن ددونیا سوچ وکړی ۰ دادونیا به هله قایمیږی چی یوازی دا نه چی غریب ملک د خپلی ژبی، کلتور، عنا او عزت احترام وکړی او د هغی د ساتنی او روزنی فکر وکړی بلکه د اقوام متحده اوپه هغی کی د هغه لوی قوتونو دا فرض دی چی د وړو قومونو عنا، کلتور، او ژبی احترام وکړی ځکه چی یو پر امنه دونیا او یو پر امن نظام حاصل کړی ۰ نن چی زه د هاغه ځای(پښتونخوا) نه راغلی یم او ددی مننه کوم او افتخار پری کوم چی پښتون قوم چی ټول عمر یو وحدت وو، یو وحدت دی ۰ پښتون د ژبی، تاریخی، کلتوری او جغرافیائی او حتی چی اقتصادی وحدت دی په هر اړخ باندی یو وحدت دی، یوه سدی تیره شوه او هغه شان تقسیم توکړی توکړی پروت دی او ولی پروت دی ؟ پښتون ندی تللی چی دانګریز سره ئی د



د هغی په کور کی جنګ کړی دی بلکی انګریز د پښتون په کور راغلی دی ۰

خویندواو ورونو دسویټ یونین (شوروی اتحاد)په کفن کی اخری میخ پښتنو ستاسو دلاسه ښخ شو دغه شان پدی خاوره چی هر غاصب(تیری کوونکی) راغلی دی د سکندر نه واخلی تر انګریزه پوري پښتون ورسره په نره جنګیدلی دی،انګریزانو ټول هندوستان په جولی کی وغورځید دومره وینه ئی توی نه شوه لاکن دپښتنو په هره دره، ګودر او کنډو کی د انګریز وینه د پښتون د وینی سره سمه توی شوه خو هغه زور لره او ټول پښتون ئی د سینی لاندی کړ تر کابله لاړ ۰

دپښتون قام دا عادت، مزاج اوخصلت دی چی پښتون قام ته شکست (ماتی) ورکولی شی خو په پښتون شکست تسلیمولی (منلی) نه شی هم ددغی جذبي لاندی پښتانه راپاڅیدل او د انګریز ۱۳۷۳۴ فوځیان ئی مړه کړه او یو ډاکتر« براېډن» ئی پریښود او په آس ئی سور کړ چی لاړ شی او په جلال آباد کی د انګریز فوځ ته خبر ورکړی چی د هغه فوځ ختم شو ۰ دا هغه دوره وه چی انګریز د زار روس خلاف په وسطی اشیا کی جنګیدو د آمو نه رادیخوا خاوره انګریز خپله ګڼله ۰ دلته پدی خاوره کی هغوی ته دومره درد او صدمه ورسیده چی هغه ویل دلته یو قوت پروت دی چی زما تقریباً ۱۴۰۰۰ فوځ ئی ختم کړ زه به د زار روس خلاف جنګیږم او دلته کی به هغه قوت څما ملا پری کړی ئی ۰ داسی چی هریو حمله ور راغلی دی لکه څنګه چی ما وویل زمونږ مشران ورسره په نره جنګیدلی دی خودا اولنی غاصب وو چی پښتون ئی جغرافیائی ډول تقسیم کړ، په افغانانو کی چی کومی متي وی هغه پښتون قام وؤ، انګریز دهغه متو دماتولو لپاره پښتون قام توکړی توکړی کړ ۰ نن هم مونږ لاهاغه شان توکړی پراته یو ۰



ورونو نن دونیا یوه کیږی، نن د لوی اتحادونو دور دی، نن ددونیا، ګاونډی ملکونو او منطقی دا ضرورت دی چی دتجارت د وچی دالویه لاره چی د افغانستان په سینه تللی ده او آن وسطی اشیا ملکونو ته رسیدلی ده چی دا لاره اول دزار روس او دانګریز او بیا دشوروی او امریکی ددشمنی په وجه بنده شوی وه پرانستل شی خو زه ورته دا ښکاره په ډاګه خبره کوم چی تر څو پښتون قام نه ئی یو شوی تر هغی پوری دا لاره نشی پرانستل کیدی ځکه چی ددی لاری پرانستل امن غواړی چی یو وجود په منځ نیم پروت وی د هغی وینه نه شی بندیدی، دا وینه به هله بندیږی چی دا وجود سره وګنډلی شی او یو شی ۰ که د منطقی خلک، دبرصغیر هند، دوسطی اشیا خلک، پښتانه، افغانستان،او ایران وغواړی چی دوی دی هم دومره ترقی وکړی لکه څنګه چی غربي ملکونو کړیده نو لوی اتحادونو ته به څی پغیر دلوی اتحادونو دا ترقي ممکنه نده لوی اتحاد پدی منطقه کی تر هغی نه شی کیدی تر څو چی پښتون قام وحدت نه ئی شوي ۰ پښتون قام نن د وخت، اوددونیا ضرورت دی او دا عمل (دپښتنو ویش) یو غاصب کړیدی،زه ورته دا وایم چی دغاصب عمل نه آئین (قانون)کی او نه اخلاقی جوازلری، دغاصب عمل هیڅ جواز نلری ۰

ورونو نن وخت دی چی کم از کم مونږه دومره جرئت وکړو چی په ډاګه ددونیا نه مطالبه وکړو چی زه یو قام وم، زه یو قام یم زما وحدت که اخیستی دی غاصب(تیري کوونکی) اخیستی دی او یا ما پدي مطمئین کړه چی د غاصب عمل څه آئنی(قانونی) جواز لری او که نه لری نو بیا زما په خاوره کی ئی هم نلری، لهذا دغه د غاصب عمل د منځه وړل پکار دی مونږ فساداو تشدد نه غواړو، خو ځان او خپل حق غواړو ۰ نن وخت داسی راغلی دی چی که نن مونږ هم لږه خاموشی وکړو نو مونږ به خپل ټول راتلونکی نسلونوته مختورن یو، دا زمونږ

فرض دی چی په ډاګه په هسکه غړانګه دخپل قومی وحدت مطالبه وکړو او که څوک دي کی خنډ غورزوی نو باید چی راشی او مونږ سره خبري وکړي .

نن هم زمونږ دومره بی حسی ده چی قامونو ځان کله وګاټه مونږ لا هغه شان تقسیم پراته یو . زما شپږم ٦ حس ماته دا ګواهی راکوی چی دا تاریخ لګیا دی او دا پښتانه ، سره یو کوئ او یقین می دی چی ډیر ژر انشاالله ، خدای دی وکړی چی زمونږ په ژوند کی پدی منطقه کی د پښتون قومی وحدت حاصل شی .

ورونو په پښتنو باندی ډیر انقلابونه راغلی دی که اوسط ئی واخلو نو د پښتون تاریخ ددی نه ډک دی چی هر دیرش (۳۰) کاله پس په پښتنو اود پښتنو په خاوره انقلاب راغلی دی، خو داموجوده انقلاب چي کوم راغی ددی انداز انقلاب په پښتنو هیچیری ندی راغلی، دومره تباهی ددی نه مخکی چیرته هم نه وه راغلی په هر انقلاب کی دپښتون وجود او مرکزیت ته هیڅ خطر نه وو دي انقلاب دپښتون مرکزیت ته داسی خطره پیښه کړه چی دهغی دخوریدلو خطره ده ، دپښتنو سیمه، اداري او خاوره تباه شوه ، په لکونو پښتانه ، افغانان شهیدان شو لیکن زما په نزد ددی ټولونه زیاته تباهی او تاوان دادی چی دپښتنو فکر رسا ( اینټیلیجنسیا ) دپښتنو رسیدونکی فکر دپښتنو پوهان او عالمان تس او نس شول په امریکه ، یورپ ، روس، پاکستان ،هنداو نورو ملکونو کی ناست دی دغه شان د پښتون کلتور ته یوډیر لوی نقصان ورسید دافرادونه ئی دهغی تلافی ډیره ګرانه ده، د پښتون فکر رسا منتشر شو دقام دابادی، دقام دتعمیر ، دهغی لاره او دهغی نشان دهی هغه به فکر رسا کوی نن هغه فکر رسا منتشر دی .

پښتنو ورونو تاسو چی پدي ملکونو کی خواره یاستی داهغه ملکونه دی چی که په تاسو کی یو کس عالم او پوهه پدی سرک باندی یو



دپښتنو د یووالی دورځی دنمانځنی یوه ځنډه



اواز قدری وکړی دا اواز دونیا ته رسی او که زمونږ په هغه سیمه مونږ زر ۱۰۰۰ کسان د سر قربانی ورکړو څوک تری خبریږی نه . که تاسو یودبل سره ربط پیداکړی ، او کوم سړی چی په یورپ ، امریکه، استرالیا، روس، هند، پاکستان ، کوزه پښتونخوا او یا نورو ملکونو کی ناست دی او هغوی یو دبل سره ربط پیدا کړی او صرف یو اواز قدری وکړی نو هغه تباهی چی هغه ډیره لویه او عظیمه تباهی ده هغه زمونږ د تعمیر لپاره ډیر لوی کار کولی شی زما یقین دی چی که دا احساس پیدا شو نو زمونږ د یووالي په منځ کی بل هیڅ قوت نه شی راتللی . نن د سر ښکته کولو وخت تللی دی نن په ډاګه باندی مونږ دا خپل حق د یووالی غواړو .

ورونو د جرمن قوم د یو کیدو نه دوه میاشتی پس چی ما په جرمنی کی دآلمان دسیاستدانانو ،د پارلمان ممبرانو او د صحافیانو (ژورنالستانو) سره لیدل وکړل، ما ورته وویل چی زه اول مبارکی درکوم چی تاسو خپل قومی تشخص حاصل کړه ورسره می دا خبره وکړه چی ډیر لوی قیمت مو ور نه کړ؟ راته وویل چی مارک د قومي وحدت په مقابله کی هیڅ حیثیت نلری .

زه د افغانستان خپل نورو افغانانو ورونو ته وایم چی ورونو افغانیت اودا خاوره زمونږ شریکه ده دا مونږ ته یو غاصب نده راکړی د افغانستان بنیاد احمد شاه بابا چی زمونږ مشران ورسره ناست وو په جرګه اینښودی دی پدی کی مونږ ټول شریک یو . نوزه تاسو ته ،دغه افغان ورونو ته دا درخواست کوم چی افغانیت او خاوره مو شریکه ده نور نو فساد ته ضرورت نه شته ، امن پکار دی . دا اتلس کاله چی افغانستان کی کومه تباهی وشوه زه په یقین باندی دا ویلی شم چی که پښتون قوم وحدت وای دا تباهی به هیچیری نه وای، یو قوت به پدی



منطقه کی وای چی د هغه قوت په موجودګی کی هیچا دا تباهی نه شوه کولی دغه شان زه دی غربي قوتونو ته وایم تر څو د پښتون قوم وجود نه ئی قایم شوی دي منطقه کی امن نه شی راتللی او پاکستان ته ما ویل چی ستا مشر علامه اقبال چی کوم دا د پاکستان مفکوره ورکړیده وائی

اسیا یک پیکر آب وګل است ملت افغان در ان پیکر دل است
از فساد او فساد اسیا در کشاد او کشاد اسیا

هغه وائی چی اسیا یو وجود دی چی ددی وجود زړه ملت افغان (پښتون) دی ، دده دفساد نه د ټولی اشیا فساد دی او دده د صحت نه د ټولی آسیا صحت دی . نو چی د اسیا صحت نه ئی د ټولی نړی صحت به نه یی که د اشیا صحت ئی نو د ټولی نړی صحت به ئی .

یو صحافی (ژورنالست) د پیښور نه راغی را ته ویویل چی د طالبانو خلاف پښتون کولی شی که نه ؟ ما ورته وویل چی کیدای شی چی پښتون ووائی چی طالب بنیادګر دی او زه سوشلست یم ، زه کمونست یم . بیا ئې راته وویل چی پښتون قام پرست ئی کولی شی که نه؟ ماورته وویل چی پښتون قام پرست دطالبانو خلاف نه شی کولی ځکه که خلاف کوی دبل په خلاف باندی نو بیا دده خپله قام پرستي په شک کی غورځیږی ځکه چی دا د پښتون قام پرست فرض دی چی خپل قامی وحدت تر لاسه کړی او پدی لړ کی پښتون که هر څه دی که بنیادګر ، که سوشلست ،که کمونست ، که اسلام پسند او که جمهوریت پسند دی، خو چی پښتون دی ، قام پرست ئی خلاف نه شی کولی ، قام پرست به وائی چی زما ورور دی زما د قام غړی دی . ورونوزه تاسو ته یو خواست کوم تاسو دي ملکونو ته افت او مصیبت لیږلی ئی تاسو نه خپله معاشره (ټولنه) پاتی شویده ، ستاسو بچی در په در دی خو دقام غړی او بچی یاست مهربانی وکړی په ۲۴

ساعته کی یو ساعت دی خپل قام خدمت ته وخت ور کړی، کښینی غونډي ،مشوري اوجر گي و کړی،لاروباسی۰

پښتنو ډیر پیاوړی،متوراوډیر بهادر قام یاست که مو ورته مخه شوه یقین و کړی چی غرب هم په مخه یوسی، لاتر اوسه پدی خوب ویده وو دا کافی ده او زه درته دا وایم چی ددومره لوی قربانی نه پس هم پښتنو که تاسی خپل قامی وحدت حاصل نه کړه خداي مه کړه بیا به تر قیامته هم دغه شانته یاست ۰ دا یو وخت دی نن تاریخ او دتاریخ جریان ستاسو ملگری دی نن تاریخ تاسو یو کوی او داستاسو پیدایشی، فطری،قانونی ،آئینی او اخلاقی حق دی ۰ زه د دونیا قومونو ته دا وایم چی که تاسو واقعی په دونیا کی دامن،دسولی،دمینی، د رورولی نوی نظام غواړی نو کوم قومونه چی دغه شان تقسیم پراته دی ستاسو فرض جوړیږی چی د هغی متی مظبوطی کړی، د هغی دلاری خنډان لیری کړی چی هغه یو شی ۰ خویندو او ورونو زه دا یقین لرم چی ستاسو د هر یو په زړه کی زمانه زیاته جذبه د قام ولی او پښتون قومي وحدت پرته ده، صرف که ضرورت دی نو هغی ته یو رخ ور کول دی هغی طرف ته یو ګام اخستل دی ۰ نن هغه وخت راغلی دی «نن دی که سبا دی دا مال د زرغون شاه دی» ، انشاالله ډیر زر دا پښتون پیاوړی قام دا دسیالو سیال قام دا به ددونیا په قامونو کی داحترام وړ یو قام ئی، دده سر به هم جگ شی، دده وجود به هم یو شی اووینه به ئی بنده شی، صرف که ضرورت دی ستاسو دپام ضرورت دی نو زما دا یقین دی چی انشأالله ددی نه پس به نه یوازی دا چی تاسو به پام ور کړی بلکه تاسو به خواره شی او هغه ټول ورونه چی هغه نن دلته ندی راغلی او دا اواز هغوی ته ندی رسیدلی تاسو به هغوی ته دا خپل اواز ورسوی، نو ددی په اخر کی زه یووار بیا دخپل طرف نه، دپښتونخوا قومی پارټی دطرف نه د پښتنو دټولنیز اولسو لیز گوند د مشر ښاغلی کبیر ستوری، دمشرانودجر گی ، او ددی گوند دټولو غړو او خویندو ستاسو او حاضرینو ورونو ستاسو ډیره مننه ډیره شکریه اداکوم۰ اسلام علیکم۰

ای پښتنو هیر نه کړی

داستاسو ملنګی «خټک»




وخت به درنه داسی لیرینی

ګوري بیا هم غواړی

پت خود غیرت نه جدا کیږی نه
غر د خپله ځایه نه خوزیږی نه
وایه د مستی غرور د ی څه شو لو
ښه ځوانان خو دومره زر بد لیږی نه
ته د تا تري لښکر کی ئی که نه
داد غرو بهیر په چا کمیږی نه
ما « خټك » ته وا ی چی ته څه مه وایه
نمر د چا په د وه گوتو پټیږی نه



## غزل

محمدجان ( یار)

| | |
|---|---|
| زلفی چی دی بیا په مخ سمسوري شوی | سري لمبی د مینی په ما پوري شوي |
| ما ته خودی مینه پښتنه ښکا ري | ستر گي می پوه نه شوم توري توري شوی |
| زر ماوی چی ورشم میکدی پوری | خم نه وو پیالي ټولي نسکوري شوی |
| خوشی میخاني دیوال ته کښیناستم | لاچپي دغم می په زړه نوري شوی |
| مینه کی خوهسی بی پښتو نه یم | ستا ارادي لاړلي کمزوري شوی |
| خیر دی «یار» ته شونډو نه خوړ کړه اوس | ستر گی ئی ستا دید ن پسی شمکوري شوی |

## باچاخان

ملنگ جان [مهمند]

دی گلشن ښکلی باغوان ، گلونه مړاوی پریشان ، د پښتنو د منځ نه لاړو یو خان
تـل بـه یـادیـږی بـاچـاخـان

اغیار په خپلو کی په جنگ کړو ، خومره ئی د یو بل نه په ځنگ کړو ، ورونو لاس ور کړی ټول ئی یو پښتون افغان
تـل بـه یـادیـږی بـاچـاخـان

ربه قبول می دا دوعا کړی ، د زړه پوره می مدعا کړی ، زلمي دی تل وی په وطن باندی قربان
تـل بـه یـادیـږی بـاچـاخـان

هره خبره ئی د کمال وه ، په تیارو کی بل مشال وه ، مونږ ته ئی راکړه د ژوندون لاره په خان
تـل بـه یـادیـږی بـاچـاخـان

تل په وینا ورته ژړیږم ، د خپله ځانه نه خبریږم ، ربه قربان کړی د «ملنگ» سر د افغان
تـل بـه یـادیـږی بـاچـاخـان



## کـتـابـونـه

خبریال: عبدالنصیر ( ستوری)

**باچاخان او خدائی خدمتگاري دریم ټوک:** د ستر لارښود خان با با (ولی خان) له خوا لیکل شوی دی ۰ دا کتاب په ۷۴۴ مخونو کی په ښکلی مشقی لیک په پښتونخوا کی چاپ شوی دی چی د ملکی ازادی رپښتونی تاریخ دی او دخدائی خدمتگار د غورځنگ د نظریو او دعدم تشدد دنظریو زیرمه ده۰ خان بابا (ولی خان) پدی کتاب کی تاریخی حقایق او سپینی خبری لکه د کاڼی کرښي راجمع کړیدی۰

**پښتون قامی وحدت:** دا پیغام د محمد افضل خان (خان لالا) له خوا د رسالی په شکل کی لیکل شوی چی اوس په انگریزي ژبه ترجمه شوی او د چاپ لاندی دی تر څو پدی وسیله سره دپښتون قومی وحدت اواز نړیوالو ته ورسوی۰

**دافغان ننگ:** د ښاغلی اجمل خټک اثر دی چی دافغانستان په هکله پکی کیسیلیکلی دی۰ دا کتاب په ۲۷۲ مخونو کی د پښتونخوا په پیښور کی چاپ شوی او د یونیورستی بک ایجنسی پیښور ، له خوا خپور شوی دی ۰

**دپښتو مېنځمري ډیبونه ۲۵۰۰ کاله پخوا:** دپوهاند ډاکټر گل جنان (ظریف) اثر دی چی د پښتو ژبي لیک ئی ۲۵۰۰ کاله پخوا جوت او څیړلی دی چی دلرغونی پخوا نی ویاړلي پښتني کلتور، ادب، هنر او دهغوی نړیوالو اغیزو د روښانه کولو او د اوسنی نسل د بیدارولو، جرئت، هوډ او حوصلی د زیاتولو یوه برجسته او غوره نمونه ده دا کتاب په ۱۹۹٦ ع کال کی په ۱۷۴ مخونو کی د پښتونخوا په پیښور کی په پښتو ژبه او هم په المانی ژبه چاپ شوی دی۰

**رښتیني ملغلری:** دپوهاند ډاکټر گل جنان(ظریف) بل اثر دی چی په ۱۹۹۷ ع کال په ۱۴۴ مخونو کی د پښتونخوا په پیښور کی چاپ شوی دی چی د ځوانانو د لارښووني په اړوند گټور مطالب لری۰ پښتني ټولني او پښتو ژبی ته دپوهاند ډاکټر گل جنان ظریف پوهنیز خدمت د ستاینی او د قدر وړ دی۰

دزړه ا وازونه: دمیرمن بلقیس محبوبی (حقیق )دشعرونو کتاب دی چی په۱۹۹۸ ع کال په ۲۲۴ مخونو کی دپښتونخوا په پیښور کی چاپ شوی دی سریزه ئی میرمن صفیه صدیقی لیکلی ده لیکواله دخپل زړه اوازونه خپل دردیدلي او زوریدلي اولس ته اهدأ کوی٠

**ګلپاڼه**: دښاغلی مبارز (څاپی) دشعرونو کتاب دی چی په کال۱۹۹۸ ع کی په ۳۲۳ مخونو کی دپښتونخوا په پیښور کی چاپ شوی، سریزه او لیکنه پری ښاغلی لایق زاده (لایق) کړیده او دپښتونخوا دپوهنی دیري له خوا خپور شوی دی ٠ ګلپاڼه دپښتونخوا لوی ارواخدای بخښلی باچاخان (فخر افغان )ته ډالی شوی ده ٠

**هیلي او اندیښني**: دښاغلی سید همایون (اولسی) په ورووړو ټوټو او یاد بی قافیی شعر په صورت کی لیکل شوی کتاب دی چی په کمو الفاظو لوی مانا افاده کوی په المان کی دوهم ځل په ۲۰۲ مخونو کی چاپ شوی دی په هیلو او اندیښنو باندی اروابناد استاد قیام الدین خادم او خدای بخښلی محمد دین ژواک تقریظ او لیکنه کړی ده

**مسا پر**: دځوان شاعر ښاغلی اکبر (بری )دشعرونو کتاب دی چه په ۱۹۹۷ ع کال په ۲۱۲ مخونو کی دپښتونخوا په پیښور کی چاپ شوی او هغه ګرانو هیوادوالو ته چی لاتر اوسه پردیس او مساپر دی اهدأ شوی دی٠

**کوکاری**: دښاغلی محمداجان (یار) دشعرونو کتاب دی چی په ۱۹۹۷ ع کال کی په ۸۵ مخونو کی دپښتونخوا په پیښور کی چاپ شوی سریزه پری ښاغلی ډاکټر کبیر ستوری لیکلی ده٠

**اوه ګامه مزل**: دښاغلی افضل (شوق )سفرنامه ده چی دځینو لیدل شویو هیوادونو په هکله ئی معاشرتی او تاریخی حقایق راغونډ کړیدی په کال ۱۹۹۶ ع په ۱۷۰ مخونو کی چاپ شوی دی دسکام پښتو ادبي اکاډمی کویټه له خوا خپور شوی او انتساب ئی دپښتو ځوان شاعر جعفر سهیل په نوم دی ٠

**نغوتی او نغوری ﴿پښتو دوه بیتۍ﴾**: دښاغلی لطیف جان (بابی) کتاب دی چی دوه بیتۍ پکی لیکل شوی دی په ۱۹۹۷ ع کال کی په ۱۰۴ مخونو کی دپښتونخوا په پیښور



کی چاپ شوی او دختیځ کلتوري ټولنی لخوا خپور شویدی

**افغانستان وطنه**: ددی کتاب لیکواله میرمن نسیمه( ابراهیمی )ده چی په ۱۹۹۸ ع کال کی په ۱۱۳ مخونو کی چاپ شوی دی چی دوطن سره دمیني شعرونه ئی پکی لیکلي دی ٠

**د افغانستان پر کړکیچ سپینی خبري**: دډاکټر ماخان (شینواري )کتاب دی چی د افغانستان د کړکیچ په هکله پکی مطالب راټول شوی دی دا کتاب په ٦٦ مخونو کی چاپ شوی او د افغانستان دروغی او بیا ابادولو دټولني له خوا خپور شوي دی٠

**فلسفه دجنون او د جانان**: ددی کتاب مصنف ښاغلی سید عابد جان دی چی دستر فلسفي، شاعر او ادیب خدای بخښلی غنی خان په فلسفه رڼا اچولی ده ٠ دا کتاب ۱۰۹ مخونه لری، او د اداره میاشتنی «مرام» مردان له خوا خپور شوی دی٠

درنو لوستونکو پورتنی کتابونه او اثار ګټور شعرونه او په زړه پوري مطالب لری مونږ دخپلو امکاناتو په چوکاټ کی په لنډ ډول دمینه والو لپاره وړاندی کړه٠

> ژبه او خیال ستر ګی نظر پښتانه
> چی واړه یو شی دا د سر پښتانه
> خدایه زرغون کړی د احساس ګلونه
> په پسرلی کی ددی در پښتانه
> چی سره یو ځای شی دا ستوري ستوري
> و به کړی ستورو ته سفر پښتانه
> زلفی دی مخ سره په جنګ شوی اشنا
> د کاره وو یستل دي شر پښتانه
> دادغماز نظر تری وباسه نور
> ستر ګو کی ځای کړه لراو بر پښتانه
> د (قهار) زړه به ولی نه دردوی
> مری په کابل لښکر لښکر پښتانه
>
> عبدالقها رصوابی پښتونخوا



# نوی زړی

خبریال : عزیز سرشار

## دباچاخان مرکز پرانستل شو:

پیښور: دباچاخان مرکز په پیښور کی دیوی غټي غونډي په ترځ کی پرانستل شو٠ غونډي ته دپښتنو ستر لارښود خان بابا (ولی خان ) او دعوامی نیشنل ګوند مشر اجمل خټک او نورو مشرانو ویناوي وکړی٠

د وینا کوونکو له خوا دپښتنو په یو مرکز دراغونډولو او دباچاخان (فخر افغان ) دفکرونو او دعدم تشدد دنظریو دمشالونو په خوروولو باندی زور واچول شو٠

دپښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند ددی مرکز پرانستل نیک فال ګڼي او عوامی نیشنل پارټی اود ټولو هغه کسانو ته ددی مرکز په جوړولو کی ئی ونډه اخستی ده قدردانی کوی ٠

## پښتون اتحاد:

پښتونخوا: د ۱۹۹۸ عیسوی کال دجولای په میاشت کی دپښتنو قوم پرستو ګوندونه په خپلو منځونو کی د (پښتون اتحاد ) بنسټ کیښود،دا اتحاد دخان بابا( ولی خان ) دمشری تر لاندی مخ په وړاندی روان دی چی ورځ په ورځ د ډیرو پښتنو ملاتړ تر لاسه کوی٠ پښتون اتحاد به دپښتنو دحقوقو څخه دفاع کوی او په تیره بیا د افغانستان ربړه، دپښتنو حالت په قبایلو کی، دپښتونخوا



قرارداد(پریکړه )، کراچی کی دپښتنو حالت، جنوبی پښتونخوا، او دپښتنو د اتفاق او قامی وحدت (ملي یووالي ) دپاره به لاری هواروي

## دپښتونخوا قرارداد ﴿پریکړه﴾ پاس شوه

جرمنی: دپښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند دپښتونخوا صوبائی(ولایتی )پارلمان د ۱۹۹۷ عیسوی کال د نوامبر دمیاشتی د دیارلسمی (۱۳ )نیټي دپریکړی چی صوبه سرحد دی دپښتونخوا په نوم ونومول شی هر کلی کوی٠

دپښتنو دټولنیز اولسولیز ګوند مشر ډاکتر کبیر ستوری دا یوه تاریخی پریکړه وګڼله او زیاته ئی کړه چی دپښتونخوا نوم دپښتنو ارزو وه د صوبائی پارلمنټ ننګیالیو ممبرانو خپله ذمه واری چی پښتون اولس ورسپارلی وه تر سره کړه ٠

پدی لاره کي دټولو میړنیو پښتنو مشرانو او په تیره بیا د درنی مشري نسیم بی بی چی دا نوم ئی (پښتونخوا ) صوبائی پارلمان ته وړاندی کړی او د ویاړلی مشر محمد افضل خان (خان لالا ) چی دپښتونخوا نوم ئی پخوا په مرکزي پارلمنټ کی یاد کړی وو د هلوځلو ستاینه او قدردانی کوی٠

دپښتنو ټولنیزاولسولیز ګوند ټولو پښتنو مشرانو او دصوبائی پارلمنټ ممبرانو ته چی دپښتونخوا دنوم لپاره ئی خپل ووټونه ور کړی دی د زړه له کومی مننه کوی او مبارکی ورته وائی٠

پښتو او پښتونولی دټولو پښتنو ګډ میراث دی او په ګډه پالنه غواړی٠ دپښتونخوا د صوبی پریکړه نه یوازی دپښتنو دسوکالی او ابادی په لور یو ګام دی بلکه دمنطقی د سولی، ثبات او هوسائی زیری دی ٠

# د پښتنی کلتور ملغلری

لیکونکی د کابل پوهنتون پخوانی استاد رڼا ګل اریوبزی

## « سیــــالــــي » د بیـلـګـی پـه تـوګـه

پښتو او پښتونولي دخپل ژوند او بقا دشرائیطو له مخی دبیدیا ګل ته ورته دی ۰ لکه څنګه چی د بیدیا ګل باغ او باغوان نلری په دښتونو او دغرونو په لمنو کی لوئیږی د پښتو شعر او ادب له جونګړو او بانډو راپورته شوی او یا د تیری کونکو سره د مقابلی په ډګر کی لیکل شوی دی او ورسره سم په کلیو او بانډو کی زمونږ ژوند دود یانی (یعنی) پښتونولی ایجاد شوی او پالل شویده ۰ پښتو او پښتونولی دخپل تاریخ په اوږدو کی ډیره درباری پالنه نه پیژنی نو ځکه مو شاعر او ادیب چاته د سر ټیټونه نه پیژنی ۰ پښتنی پوهانو او لیکوالو دلته او هلته دپښتو شعر او ادب په هکله یو څه څیړنی او لیکنی کړی دی، خو داسی ښکاری چی پښتونولي تر اوسه پوری د پښتنی روښانفکرانو د جدی څیړنو نه محرومه پاتی ده او پالنه ئی داولسی پرګنو دعملی ژوند په وسیله کیږی ۰ پدی هکله د مرحوم محمد ګل خان مومند، استاد خادم او عبدالرحمن پژواک لنډی لیکنی دخپل تاریخی ارزښت سره سره د کار پیل ګڼل کیدای شی ۰ پداسی حال کی چی مونږ د خپلو رنځونو دوا (درمل) په نورو فکرونو او کلتورونو کی لټوله څنی بهرنیو د پښتنو دپیژندنی لپاره د پښتونولی په هکله یو لړ علمی څیړنی او لیکنی کړی دی چی زمونږ لپاره زمونږ خپل ژوند دود یو څه روښانه کوی ۰ له دوی څخه څنی پدی عقیده دی چی "پښتونولی دټولو هغه ارزښتونو او د همدی ارزښتونو په بنسټ بنا شوو معیارونو مجموعه ده چی په ځانګړی توګه د پښتنی ژوند څرنګوالی ټاکی، دفردی سلوک او د ټولنیز ژوند استمرار تنظیموی ۰ پښتونولي یوه مفکوره ده او ټول هغه څه په بر کی نیسی چی یو



پښتون ئی باید وکړی او یا تری ځان وساتی ۰ پدی ډول پښتونولی کی د کامی (قومی) هویت وسیله ده چی پښتانه د نورو کامونو (قامونو) څخه رابیلوی ۰"

هو ! پښتونولی پښتانه د نورو کامونو څخه رابیلوي، په دوی کی د کــــامـــی هویت مزی غزوی، دوی سره نږدی او یو کوی، نو ځکه د پښتنو یووالی نـــــه یوازی د پښتو ژبی بلکی د پښتونولی پالل هم ایجابوی ۰ د پښتونولی د اصولـــو څخه یو اصل **سیالی** ده ۰

سیالی د پښتنی ټولنی د ارزښتونو او معیارو سره سم ټولنیز سلوک دی چی ځانګړی افراد، ډلی، کلی او کامونه ئی له یو بل سره کوی او پکی هر یو د بل سره ځان برابروی ۰ د بیلګی په توګه د یو کلی جومات ته نا اشنا میلمانه راځی د کلی او سیدونکی د میلمنو پالنه یوه یا دوه تنو ته نه پریږدی بلکی هر یو هڅه کوی چی د خپل وس سره سم د میلمنو په پالنه کی برخه واخلی ځکه ددی مسئولیت نه ځان پټول د سیالی نه د وتلو معنی (مانا) لری او پښتون دا کار نه کوی ۰ پښتانه د ټولنیز ژوند په ټولو برخو کی، په خدمت کی ، په کار کی، په توره کی ، دهیواد په دفاع کی، په ننګ کی، په تګ او راتګ کی، دبی وزلو سره په مرسته او نورو کی یو د بل سره سیالی کوی یانی هڅه کوی چی پدي او نورو چارو کی تر بل وروسته رانه شی ۰ داچی په سیالی کی شامل اړخونه نه غواړی چی د یوی چاري یا دندي په تر سره کولو کی له یوبل نه وروسته پاتی شی نو د سیالی ظاهری بڼه د رقابت سره یو څه شباهت پیدا کوی ۰ شاید همدا علت وی چی د پښتو په زیاتو لیکنو او نشریاتو کی سیالی، رقابت او حتی خصومت سره په یوه مانا استعمالیږی ۰ حقیقت دادی چی سیالی خصومت ندی بلکه یو ډول مرسته او کمک دی چی د رقابت سره دا لاندی بنسټیز توپیرونه لری ۰

۱- رقابت یو ډول مقابله او کله کله مسابقه ده چی پکی رقیب اړخونه د یو بل سره په خلاف عمل کوی خو په سیالی کی شامل اړخونه د یو بل په خلاف کار



نه کوی بلکی هڅه کوی چی ګډ هدف ته د رسیدو په لاره کی د بل څخه وروسته پاتی نه شی نو ځکه سیالی په حقیقت کی د سیالو اړخونو تر منځ یو ډول همکاری ده ۰

۲- په رقابت کی هر اړخ په خپل رقیب باندی د بری په لټه کی وی او د یوه بری د بل د ماتی په صورت کی تر لاسه کیږی ۰ د ځان بری او د بل ماتی د رقیبو اړخونو هدف دی خو په سیالی کی شامل افراد او ډلی خپل بری د بل په ماتی کی نه وینی ځکه د سیالی حکم د ټولنیزو چارو په اجراء کی د بل یا د نورو سره فعال ګډون کوی او د خپل مسئولیت تر سره کول او هدف ئی لدی لاری په کور ، کلی او ټولنه کی د بل او یا نورو سره د برابر اعتبار تر لاسه کول دی ۰

۳- په رقابت کی رقیبی ډلی د مادی ګټو په سر له یو بل سره مقابله کوی او همدا مادی ګټې د رقابت محرک ځواک جوړوی خو په سیالی کی څوک مادی او یا مالی ګټې نه تر لاسه کوی، سیالی د مالی او د ضرورت (دوطن نه د دفاع) په وخت کی حتی د ځان څخه تیریدونکی سلوک دی ۰ پښتانه په سیالی کی مالی لګښتونه منی ، که ضروری وی ځان قربانوی او په دی توګه په ټولنه کی له نورو سره برابر اعتبار تر لاسه کوی ۰ دا د سیالی او رقابت تر منځ اساسی توپیرونه دی خو د سیالی په مفهوم هغه وخت ښه پوهیدلی شو چی د سیال په مانا پوه شو ۰ سیال په سیالی کی شامل فرد دی چی جمع ئی سیالان دی ۰ په پښتنی ټولنه کی هر پښتون په سیالی کی شامل او هر یو سیال یعنی د بل سره برابر دی ۰ پدی توګه د سیالی ټکی یوازی په «زه» ندی محدود بلکی «ته» او «هغه» هم په بر کی نیسی ۰ «هغه» ، «ته» او «زه» ټول سیالان یو یعنی نه د یو بل نه زیات یو نه د یوبل نه کم یو بلکی ټول سره برابر یو ۰ دا برابرې حقوقی صیغه لری یا حقوقی برابری ده ، ځکه چی په پښتنو کی هم بډای او غریب ، عالم او بی علمه یعنی ټولنیز توپیرونه ، فکری اختلافونه او نور ډیر فردی ځانګړیتوبونه شته چی چی یو پښتون له بله توپیروی، خو دا توپیرونه، اختلافونه او فردی ځانګړیتوبونه ئی له سیالی او هم د بل سره له برابری څخه نه



محروموی ځکه سیال د بل سیال سره په هر صورت برابر حقوق لری او هر سیال د ځان سره د بل سیال برابری منی ۰ د پښتونولی په چوکاټ کی هر پښتون خپلواک فرد دی او ځان ته دا حق هم نه ورکوی چی د بل پښتون خپلواکی محدوده کړی ۰ نو ځکه پښتون بل پښتون دټولو توپیرونو، اختلافونو او فردي ځانګړیتوبونو سره سره د ځان سره د برابرو حقوقو د خاوند په توګه منی، تحمل کوی ئی او حتی احترام ئی هم کوی او په هغه باندی د خپل فکر د تحمل نه کلکه ډډه کوی ۰ لدی واقیعت نه د سیالی سیاسی اهمیت راجوتیږی او هغه داچی د افرادو د حقوقي برابری اصل ټولواکی او دیکتاتوري ردوی، سیالي په حقیقت کی سیاسی پلورالیزم دی او اولسواکی منی نو ځکه پښتانه خپله سیاسی اداره د ولسی جرګو د لاری په عمل کی پیاده کوی ۰ وینو چی زمونږ ولس د ربړونو نه ډک تاریخ په اوږدو کی له دربارونو نه لیری ، هلته په کلیو او بانډو کی او یا د تیری کوونکو سره په تودو جګړو او مقابلو کی یو ډول کلتور ایجاد کړی، پاللی او تر اوسه ئی ساتلی دی چی پکی انسانی کرامت ، د انسان اساسی حقوق او په نړیواله سویه پیژندل شوی انسانی ارزښتونه لوړ مقام لری او د ولسواکی لپاره ټینګ بنسټ جوړوی شاید همدا علت وی چی پښتنی کلتور زیات وخت د درباري پالنی نه محروم پاتی شوی او د وروستیو شلو کلو راپدیخوا د کین او ښی اړخ د افراطی ډلو او ګوندونو د بی رحمه انټرناسیونالیستی ګذارونو لاندی واقع شویدی ۰ مونږ په نورو د کلتوری لوړتیا دعوه نه کوو خو بی کلتوره هم نه یو ۰ د مطلقی بشپړتیا دعوه ښه کار ندی ۰ مونږ د نورو کلتورونو، مفکورو او فکرونو سره کومه دښمنی نلرو او حتی په دی عقیده یو چی پردی کلتورونه او فکرونه په پښتنی ټولنه کی د پښتونولی ځای نه شی نیولی ۰ زمونږ دا وروستنی تاریخ هم یو ځل بیا ښائی چی د سیالی نه د سیال راایستل او هغه د بهرنی واکمنی او یا کورنی دیکتاتوری تابع کول نه کوم ساده کار او نه عادلانه کاردی ۰ تراوسه خو داسی ښکاري د ملی هویت او ملی کلتور مخالفین یو په بل پسی د سیاسی زوال کندی ته لویږی دسیالی او سیالانو ټاټوبی ئی د شره خلاصیږی ۰ پاتی برخه په بله ګڼه کی

## پښتونولي

ډاکټر ماخان (شینواری)

پښتو ژبه، عمل، پښتون کړي سوګند په پښتو
د پښتو ژوند پښتونولي او دي مین په پښتـــو

پښتو همله چی پښتانه پښتانه پاتـــی دي
پښتو د غرو، پښتو د پښتنو، د رو ژبه پښتو

پښتو ده ژبه له ډیر وخت د پښتنو پدی ملک
یواځی کلو، غرو درو کی ژوندی پاتی پښتو

پښتو ده ژبه د پښتون چی یو ستر قـــوم دی
چی پښتو لاړه د پښتون هغه پریښودي پښتو

که دا دفتر، که ښوونځی او هم ښار پوهنځی
د قدرت پښتنو پریښوه پښتونولي هم پښتـــو

پښـــتـــون بـــه ســـره یـــو شـــی کـــه دســـمـــی کـــه دغـــر دی
مـــولا دی ذریـــو کـــړی چـــی د یـــو نـــیـــکـــه ټـــبـــر دی
دمـــخـــی بـــه هـــواري ټـــولـــی نـــښـــی د بـــیـــلـــتـــون شـــی
د ټـــولـــی اســـیـــا زړه بـــه رښـــتـــیـــا ســـره پـــښـــتـــون شـــی

ژبه او کلتور د قام او وطن په ابادی کی مهم رول لوبـــوی لدی امله د پښتنو ټولنیزا ولسولیز ګوند د خپلي ژبـــي او کلتور وده او پرمختګ خپله بنسټي دنده ګڼي • ازادي ، عـدالـت ﴿انـصـاف﴾ او وروروـلـــي د پـښـتـنـي ټولنیزی اولسولـی غـوښـتـنی دی • پـښـتـــونـــولـي ، ټـولـنـولـي او اولسولي د پـښـتـنـو د ټـولـنـیـز ولـسـولـیـز ګوند بنسټ او تادا و جوړوی •

﴿ د PSDP دمنشور څخه ﴾



## درنـــاوی

مبارز ﴿ څاپی ﴾

د افغان دادبـــي بهیر ښا غـــلیـــــو — دادب دډ ګـــرزمـــونـــړه ســـورو پـــلـیـــو
دشعور شعر موووسه ژونـــدی تـــــل — دتاریخ دهسک پـه سر بـانـدې ختلیو
دهیلـو دسر دتاج غمی مـوتا ســـي — دهـمـت لـه سـترو پـرښو نـه، وتـــلیـو
ډیرینو ارادو ته مـو درنــــــا وې — شـتـه هر کلـه دافغان دغور ځنګملیـو
جبرائیل به دژغورني زین په مـــلاشي — هـر نـمـرود د زمـانـې داور مـنـهلیـو
پښتني فردوس به وویاړي ترتـــلـــــه — بیاپه خپلو پرښتو سپینو سپیڅلیو
هریو ټپ شه په رغا کښي د ټپیا نــــو — هـره هـځـه شـه وسـیـي د پـریـوتـلـیـو
دا هیله ده چی هر کله تازه کیـــــږي — بنسټ ټینګ شه بیا دبیخ دبیخ ختلیو
ټیغی ستر ګی دی ناسورې داغـیـــا رو — شـه ړنـدی پـه «پـسرلـي» زمونږ دکـلیـو
یو «صمیم» «کاروان» «نثار» دي پښتونخوا کی — ورسـره هـم عـابـد «بـاز» دروعي پـر ولـیـو
د «ساهو» «سامسیحا ورته» «رفیع» مـــــو — پـه کوشیر بـاندې لګیا دتاریخ څلیو
ښه «پیکار» «همکار» «بریال» اوورسره هم — څوان «کوثر» «حاوی» لـه ډلی دغښتلیو
په وفا کی د «وفـــا» ترړې دخونـــد دی — لکـه ژونـد شـي پـه زمـزم د اوبـو څښلیو
«ننګ» مو ښکاري په سنګر کی د «کمین» — کړي بـه ماتـې بیا کاسې ددال څټلیو
«دولت زی» دی پښتني غیرت که ګورئ — دایبـک درسـتـم تـخـت پـورې ورغـلیـو
دبلبلو ترانـــــې دبن نغمـــــــی دي — مـــه پوښتئ رانه دحال د اورسیځـلـیـو
دتوتیـانو پـه مخونو کې خواږه شه — څو ښکلا پـه ښکلولـوشي دښـکـلـیـو
کنبیده ده په څلاچې کړي وچـــتـــــه — هـر ارزښـت دانـځـاره د انـځـورلـیـو
ژر دې پریوځی دیوال د بیلتانـه مـو — څـوشي کـړی مخ پـه بن لـه بـنـه تـلـلیو
شي ښکاره به یوه ورځ په هنداره کـــــې — مـخ چـټـلـه دتـاریـخ دمـخ نـاولـلـیـو

د «څـــا پـــی» ملتیا به تل وی ورپه برخه
دهـیـواد د ننګ دجنګ دپرهار ژلـــیـــو



## پـــــښـــــتـــــونــــــخـــــوا

پـښـتـون فـیـصـلـه وکـړه دی کـی بـلـه نـه څـائـیږي
داخـاوره د پـښـتـون بـه پـښـتـونـخـوا پـه نـوم یادیږي

داحـق دهر یوقام دی چی پـه خپل نامه ئی ملك وي
او ژبـه ئـی د مـلـك پـه دفـتـرونـو کـی چـلـیږي

تر څو چی پښتانه او پښتونخوا وي ویشل شوي
نـو امـن مـنـطـقـه او پـه نـړی کـی نـه ټـیـنـګـیږي

د امـن لـه خـاطـره دا ویـش نـور نـه پـاتـي کـیږي
دا واړه پـښـتـانـه پـه یـو مـرکـز بـانـدی ټـولـیږي

دوخـت دا تـقـاضـاده «سـتـوري» وائـی دا بـه کـیږي
نقشه کـی د نړی به پـښـتـونـخـوا نـوم لیکل کـیږي

ډاکتر کبیر «ستوری»

پښتو

چی پښتو دوزخي بولی مخ ئی توردی
په پښتون باندی حرام د دوزخ اوردی
دوزخـــي ئی په ویلو جنتی شی
د پښتو ژبی جنت کی کلی کوردی

«ستوری»




که سپوره وي که پوره وي نو په شریکه به وي

﴿ باچا خان ﴾

Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt.
( Batscha Chan )

Buttered or unbuttered bread will be common.
( Bacha Khan )